د جواهراتو لړۍ ۲

## د سپينو زرو خبرې

نبوي احاديثو کې د اميرالمؤمنين

# عبدالله بن مبارک رحمه الله ويناوې

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

## د کتاب ځانګړنې :


د کتاب نوم :: عبدالله بن مبارک رحمه الله وینا وې

لیکوال :: ابو رمان مولوي محمد غني فاروقي

کمپوز :: مولوي موسی فانت

ډیزاین چارې :: مجیب الله غریب دوست

خپرندوی :: باور خپرندویه ټولنه

لومړی چاپ :: 1401 هـ ش

د خپرونو لړ :: 105

چاپ شمیر :: ۱۱۰۰ ټوکه


د چاپ حقوق له باور خپرندویه ټولنې سره خوندي دي.

باور کتاب پلورنځی، لاندینی پوړ، اسحق زی مارکیټ، بزازی څلورلارې، جلال اباد

اړیکه: 077-2702004 , 078-7730005 , 079-5353610

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ

د عبيدالله فاروقي مېرمن، نشوه فاروقي ته!

په دې هيله چې د قرآن او سنت عقيده پر نفسي خواهشاتو ونه پلورې.

م. فاروقي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# جواهرات

الحمد لله رب العالمين وافضل الصلوة واتم التسليم علی سیدنا محمد النبي الأمي المبعوث رحمةً للعالمين، وعلی اله وصحبه اجمعين.

**وبعد:**

د جواهراتو په لړۍ کې دا بل کتاب دی، چې د اميرالمؤمنين فی الحديث، عبدالله بن مبارک رحمه الله پر هغو خوږو، ارزښتمنو او گرانبيه مواعظو سينگار دی، چې ياد امام به پرې د خلکو اصلاح او هر اړخيزه روزنه کوله.

د ابن مبارک رحمه الله مواعظ او بېلابېلې ويناوې د علم او حکمت له چينې نه سرچينه اخلي او دې کوچني کتاب کې ټول مواعظ او نصائح يې د ايمان، توحيد او سنت پر خوشبو خوشبويه دي، د تقوی، توکل، اخلاص، قربانۍ او حقيقي زهد وږمې ترې خپرېږي او هره خبره يې د مؤمن د زړه ودانۍ ته لاره پيدا کوي، ابن مبارک رحمه الله په دې باب کې دومره (ثقه) دی، چې د کتاب په پاڼو کې به ولولئ، چې د سيدالتابعين حسن بصري رحمه الله د يوې وينا د کره کولو په موخه يې زر کيلو متره مزل کړی و، څو خبره ځانته کره او يقيني کړي، ابن مبارک رحمه الله عالم، محدث، فقيه او شاعر و، په نبوي احاديثو کې شهرت يې له فقهې نه په شهرت کې زيات و او فقه کې يې له ادب نه شهرت زيات و، دې له هغو عالمانو څخه نه و، چې يواځې مواعظو ته ناست و، دا مواعظ ترې بېلا بېلو مناسبتونو کې اورېدل شوي دي او موږ ته په مستند ډول رارسېدلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

الله تعالی دې موږ په هغو خلکو کې وشمېري چې له ګټورو خبرو ګټه ترلاسه کوي، په مینه او غور یې اوري، په عمل کې یې پیروي کوي او بیا یې نورو مسلمانانو ته رسوي، موږ هم په همدې هیله، احادیثو کې د امیرالمؤمنین فی الحدیث عبدالله بن مبارک رحمه الله مواعظ او نصائح له بېلابېلو مستندو عربي سرچینو د (برګ سبز تحفه درویش) په بڼه د خوږې پښتو په شاتو کې ستاسې مخې ته کېښودل، الله تعالی دې وکړي، چې ژوند او د ژوند په تګلاره کې مو د مثبت بدلون لامل شي.

رب تعالی دې هغو ټولو ته غوره بدلې ورکړي، چې د کتاب په چاپ کې یې ډول ډول مرستې کړې.

په مینه

ابو رمان محمد غني فاروقي

جلالکوټ

۱۴۰۱/۲/۲۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

## د عبدالله بن مبارک رحمه الله پېژندنه او ځانګړنې:

امام ابو بکر احمد بن علي الخطیب البغدادي رحمه الله د تاریخ بغداد په اتم ټوک کې د عبدالله بن مبارک رحمه الله په اړه داسې لیکلي:

نوم يې عبدالله او د پلار نوم يې المبارک دی، اسم کنیه يې ابو عبدالرحمن المروزي او د بنو حنظله مولی و.

(۱۱۸) هجري کې يې زوکړه شوې.

❖ عبدالله بن مبارک رحمه الله خراساني، ثقه عالم او په احادیثو کې يې ثابت ځای درلوده، نېک انسان و، شعر يې هم ویل او د جامع علم څښتن و.

ابن مبارک رحمه الله د احادیثو او فقهې عالم و، په عربي ژبه پوره برلاسی و، د تاریخ علم يې زده و، سوداګري يې هم کوله او پوهېده پرې، د شجاعت او سخاوت څښتن و او د ټولو مذهبي ډلو په وړاندې يې محبوبیت لره.

❖ محمد بن عبدالوهاب الفراء به ویل: خراسان، د ابن مبارک، نضر بن شمیل او یحیی بن یحیی په څېر نور عالمان نه دي راویستلي.

❖ ابو اسامه به ویل: عبدالله بن مبارک رحمه الله د نبوي احادیثو په عالمانو کې داسې مقام لري، څنګه مقام چې په خلکو کې امیر المؤمنین لري.

❖ عبدالرحمن بن مهدي ویلي: امامان څلور دي سفیان ثوري، مالک بن انس، حماد بن زید او عبدالله بن مبارک رحمهم الله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبدالله بن مبارک رحمه الله ددې امت لپاره ستر ناصح او د خیر غوښتونکی دی.

❖ عبدالرحمن بن مهدي بغداد ته لاړ، هلته یې یو کور و، غوښتل یې چې هغه وپلوري، اهل الحدیث (د حدیثو عالمان) ورته را غونډ شو ورته یې وویل:

تا د سفیان ثوري سره ناسته کړې او احادیث دې ترې هم اوریدلي او د ابن مبارک نه دې هم اوریدلي، په دوی دواړو کې کوم یو غوره دی؟

عبدالرحمن بن مهدي ورته وویل: تاسې څه وایئ؟!

که سفیان ثوري ددې لپاره خپل ټول کوښښ او زیار په کار واچوي، چې یوه ورځ دې یې د عبدالله بن مبارک په څېر شي، بیا به هم پر دې چاره برلاسی نه شي.

❖ شعیب بن حرب وایي:

سفیان ثوري رحمه الله به ویل: دا مې ارمان دی، چې زما ټول عمر دې د عبدالله بن مبارک رحمه الله د یو کال په څېر شي یا دې د هغه د درېیو ورځو په څېر شي؛ مګر پر دې چاره برلاسی نه شوم.

❖ احمد بن عبدة وایي: سفیان ثوري او فضیل بن عیاض او ځیني نور عالمان په مسجد حرام کې سره ناست و، ابن مبارک رحمه الله د یوې غونډۍ د لوري را څرګند شو، سفیان ثوري وویل: دا د ختیځ والو سړی دی، فضیل بن عیاض وویل: دا هم د ختیځ والو، هم د لویدیځ والو او هم د هغو ټولو سړی دی، چې د ختیځ او لویدیځ په منځ کې اوسیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



❖ عبدالرحمن بن أبو جميل وايي: موږ په مکه کې د ابن مبارک رحمه الله چاپېره ناست و، هغه ته مو وويل: د مشرق عالمه! موږ ته حديث ووايه!

هلته نږدې سفيان ثوري هم ناست و، زموږ دا خبره يې واوريده، ويي ويل: مړه شئ، دا د مشرق او مغرب دواړو عالم دی!.

❖ ابو الحسن عبدالوهاب بن عبد الحکم وايي:

عبدالله بن مبارک رحمه الله چې کله وفات شو، امير المؤمنين هارون الرشيد وويل: د عالمانو سردار وفات شو.

❖ ابو اسحاق الفزاري وايي: ابن مبارک رحمه الله د ټولو مسلمانانو مشر او سردار دی.

❖ ابن عيينه ويلي: د صحابه کرامو رضي الله عنهم او ابن مبارک رحمه الله په چارو او کړنلارو کې مقايسوي غور او نظر وکړ، د صحابه و بل کوم فضيلت مې پر ابن مبارک ونه ليد، پرته له دې چې صحابه د نبي صلى الله عليه وسلم د صحابيت او ملګرتيا اړيکه لري او د رسول الله صلى الله عليه وسلم په ملګرتيا کې يې غزاګانې کړې دي.

❖ ابراهيم بن شماس وايي: ستر فقيه او عالم مې ليدلي، ستر پرهېزګار مې ليدلی او هم مې د احاديثو ستر حافظ ليدلی، په خلکو کې ستر فقيه ابن مبارک رحمه الله دی، ستر پرهېزګار فضيل بن عياض رحمه الله دی او ستر حافظ وکيع بن الجراح رحمه الله دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



❖ ابو وهب وايي: ابن مبارک رحمه الله پر داسې یو کس ورتېر شو چې هغه کس نابینا و، یانې د سترګو نظر يې له منځه تللی و، هغه کس ترې وغوښتل چې الله تعالی ته دعا وکړه، چې زما د سترګو نظر بېرته را وګرځي او لیدل پرې وکړی شم، ابن مبارک رحمه الله هغه لپاره الله عز وجل ته دعا وکړه، دعا يې قبوله شوه، ما ولیدل چې هغه نابینا ته بېرته د سترګو نظر ورکړی شو.

❖ عبدالله بن مبارک رحمه الله (۱۸۱) هجري کال کې د (۶۳) کلونو په عمر وفات شو، د رمضان لس ورځې تېرې شوې وې او (هیث) کې خاورو ته وسپارل شو.

❖ فضیل بن عیاض رحمه الله ویلي: عبدالله بن مبارک رحمه الله مې په خوب کې ولید، ترې مې وپوښتل کوم عمل دې ډېر غوره او ګټور وموند؟

ويي ویل: هماغه کار چې زه پکې وم، ما وویل: رباط او جهاد؟

ويي ویل: هو؛

ما وویل: څه درسره وشو؟

ويي ویل: الله عز وجل راته پوره بښنه وکړه او د جنتي مېرمنو اویا د ښایسته سترګو لرونکو حورو څخه یوې حورې راسره خبرې وکړې.(تاریخ بغداد، اتم ټوک، ۲۰۵، ۲۱۶ ص)

❖ استاد صالح احمد الشامي پخپل کتاب مواعظ الامام عبدالله بن مبارک کې د ده په پېژندنه، علمیت، فقاهت، زیار او هر اړخیزو ځانګړنو کې لیکلي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبدالله بن مبارک بن واضح الحنظلي، کنیه یې ابو عبدالرحمن، د مور نوم یې خوارزمیة دی، د خراسان مشهور ښار (مرو) کې په (۱۱۸) هجري کې زېږېدلی دی.

پلار یې نېک سړی و او د خپل مولی په باغ کې به یې کار کاوه، بادار یې یوه ورځ خپل باغ ته ورغی او مبارک صیب ته یې وویل: چې د انارو له ونې نه یو خوږ انار راوړه!

مبارک صیب ورته انار راوړ، هغه چې وڅکه، خوند یې تریو و.

بادار یې وویل: زه خوږ انار غواړم او ته راته تریو انار راوړې؟

خوږ انار راوړه!

مبارک صیب دا ځل د انارو بلې ونې ته ورغی له ونې یې انار راوشکاوه او د خپل بادار مخې ته یې کېښوده، هغه چې انار مات کړ او ویې څکه گوري چې دا هم تریو و.

له دې وروسته یې مبارک صیب ته وویل: ته خوږ او تریو انار نه پېژنې؟

مبارک صیب وویل: نه.

بادار یې وویل: دا ولې؟

مبارک صیب وویل: ځکه یې نه پېژنم چې تر اوسه ما د باغ له انارو څخه هېڅ خوراک نه دی کړی، نو څنگه به خوږ او تریو انار وپېژنم.

د باغ خاوند ورته وویل: ولې ترې خوراک نه کوې؟

مبارک صیب ورته وویل: خوراک ترې ځکه نه کوم چې تا ترې د خوراک اجازه راته نه ده کړې!

د باغ خاوند د ده له امانتکارۍ او رښتینولۍ نه تعجب وکړ او ډېر زیات حیران شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د باغ خاوند پېغله لور درلوده او ډېرو خلکو ترې غوښتې وه، مبارک صیب ته یې وویل: مبارکه څوک درته ښه او مناسب ښکاري، چې زه ورته خپله دا لور ورکړم؟

مبارک صیب وویل:

د جاهلیت د زمانې خلکو به د نسب خاوندانو ته لورگانې ورکولې، یهودیانو به د مال لپاره شتمنو ته ورکولې، نصاراو به ښکلا او جمال ته پام کاوه او ښکلیو ځوانانو ته به یې لورگانې ورکولې او زموږ دا امت یې د دین لپاره، دیندارو خلکو ته ورکوي، د باغ خاوند د ده عقل او هوښیارتیا خوښه کړه او لور یې ورکړه.

همدا لامل و، چې ابن مبارک په یوې داسې کورنۍ کې منځ ته راغی چې پر تقوا او پرهېزگارۍ ولاړه وه، عبدالله د (مرو) په ښار کې را لوی شو، نوموړی د پیاوړي ذکاوت څښتن و، له یو سري نه یې یو ځل اورېده خطبه واورېده او سملاسي یې حفظ کړه او په هماغه مجلس کې یې بېرته واوروله.

(۱۴۱) هجري کال کې د علم د طلب لپاره ووت، ډېر سفرونه یې وکړ او د علم تر لاسه کولو، غزاگانو او سوداگرۍ لپاره ډېر وگرځېد.

حرمینو، شام، مصر، عراق، عربي جزیرې، خراسان او ځینو نورو هېوادونو ته یې هم علمي سفرونه کړي.

❖ ابن مبارک رحمه الله به سوداگري کوله او دا یې د دوو لاملونو پر بنسټ کوله:

۱: لومړی ددې لپاره چې خپل مخ پرې د خلکو په وړاندې د سوال او اړتیا نه وساتي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه ورځ ورته فضیل بن عیاض وویل: ته موږ ته د زهد او کمښت غوره کولو حکم کوې او تا ګورو، چې سوداګریز توکي راوړې او ګټه ترې لاسته راوړې.

ابن مبارک رحمه الله ورته وویل: ابو علي، دا کار ددې لپاره کوم چې خپل مخ او عزت، عزتمن وساتم او د خپل رب په عبادت او اطاعت کې ترې مرسته تر لاسه کړم.

۲: د ابن مبارک رحمه الله د سوداګرۍ دویم باعث دا وو، چې پر عبادت کوونکو، زاهدانو او د علم پر طالبانو مالي لګښت وکړي، یوه ورځ یې فضیل بن عیاض رحمه الله ته وویل: ابو علي که ته او ملګري دې نه وی سوداګري به مې نه وی کړې.

کېدی شي له دې خبرې یې مقصد دا وي، چې د سوداګرۍ چارو به یې پراختیا نه وی کړې یوازې دومره به وه، چې د ده لپاره به یې بسنه کوله.

- ❖ ابن مبارک رحمه الله سخاوت خوښاوه او سخي انسان و.
- ❖ شجاع او ځیګرورو، ډېرو غزاګانو او جهادونو کې یې برخه اخیستې وه او نور عالمان او زاهدان به یې هم د جهاد لیکو ته هڅول.

له یوې غزا نه وروسته چې را وګرځېد، (۱۸۱) هجري کې د رمضان په میاشت کې د (٦۳) کلونو په عمر وفات شو او (هیث) په ښار کې خاورو ته وسپارل شو.(مواعظ للامام عبدالله بن مبارک، ۸ ص)

- ❖ د عبدالله بن مبارک رحمه الله په اړه د اهل علمو ګواهیانې او څرګندونې.

د ابن مبارک رحمه الله په اړه د محدثنیو او عالمانو د څرګندونو ډېره برخه مو د تاریخ بغداد نه اخیستې چې پیل کې (د عبدالله بن

(c) ketabton.com: The Digital Library



مبارک رحمه الله پېژندنه او ځانګړنې) سر لیک لاندې لیکل شوې دي، استاد شامي هم په خپل کتاب (مواعظ للامام عبدالله بن مبارک) کې د ده په اړه ځینې بېلګې را نقل کړي، چې ځینې يې په دې ډول دي.

❖ عبدالله بن یزید ویلي: امام اوزاعي رحمه الله راته وویل: عبدالله بن مبارک دې لیدلی و؟ ما وویل: نه، ويي ویل: که ابن مبارک رحمه الله دې لیدلی وی؛ نو د هغه پر لیدو به دې سترګې يخې، رڼې او خوشحالې شوې وی.

❖ عبید بن حماد وايي: عطاء بن مسلم راته وویل: عبیده! ابن مبارک رحمه الله دې لیدلی؟ ما وویل: هو؛ ويي ویل: ما رأیت مثله ولا تری مثله.

❖ عمري به ویل: ابن مبارک رحمه الله ددې سترې چارې د سرته رسولو لپاره نبه وړ دی، يو سړي ورته وویل: د کومې چارې لپاره؟ عمري وویل: د امامت او مشرۍ لپاره.

❖ ابن معین رحمه الله به ویل: (ابن مبارک په نبوي احادیثو کې امیر المؤمنین دی).(سیر أعلام النبلاء، ۳۹۲/۸)

❖ عبدالله بن سنان وايي: ابن مبارک رحمه الله مکې ته راغلی و، زه هم په مکه کې وم، کله چې له مکې نه رخصتیده، سفیان بن عیینه او فضیل بن عیاض بدرګه او رخصت کړ، يو يې ویلي: دا د مشرق والو فقیه دی او بل يې ویلي: دا د مغرب والو فقیه او عالم دی.(مواعظ للامام عبدالله بن مبارک، ۱۱/۵)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لومړیتوبونه پالل!

د عبدالله بن مبارک رحمه الله یوه ستره ځانګړنه دا هم وه، چې د ژوند په چارو کې یې لومړیتوبونو ته ارزښت ورکاوه او په عملي ډول یې پالل، د لومړیتوبونو په ترتیب او کټګورۍ کې یې لومړی دا زړه پورې بېلګه ولولئ.

## له حج نه غوره صدقه؟!

یو ځل د حج د ادا کولو په موخه له کوره ووت، له ځینو ښارونو تېر شو، له دوی سره د سفر په بهیر کې یو مرغه هم و، هغه مړ شو، حکم وشو، چې دا مرغه دې هورې نږدې په یو ډېران وغورزولی شي، مړ شوی مرغه پر هماغه ډېران وغورزولی شو، عبدالله بن مبارک رحمه الله له ملګرو سره یو ځای بیا مزل پیل کړ، ملګري یې مخکې او نبوي احادیثو کې امیر المؤمنین عبدالله بن مبارک رحمه الله له هغوی وروسته روان و، کله چې پر هماغه ډېران تېریده، چې مړ شوی (مردار) مرغه پرې غورزول شوی و، ګوري چې ډېران ته نږدې له یو کوره پېغله جلۍ راووته، مردار شوی مرغه یې له ډېران نه را پورته او په څه شي کې را تاو کړ او په بیړه یې کور ته ننه ایسته، عبدالله بن مبارک رحمه الله د هغې د کور دروازې ته ورغی، ترې وپوښتل، د څه لپاره دې له ډېران نه مړ شوی (مردار) مرغه را پورته کړ او کور ته دې وېوړ؟

جلۍ وویل: زه او ورور مې دلته اوسېږو، له موږ سره ددې لنګ نه پرته بل څه نشته، موږ د ورځې شپې د خوراک لپاره هم څه شی نه لرو، یوازې د همدغه شیزونو نه د لوږې په مهال ګټه تر لاسه کوو، چې پر ډېران غورزول شوي وي، موږ له ډېرو ورځو راهیسې په دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



حال اخته یو، ظالمانو مو مال په زور تر لاسه کړ او پلار یې راته ووژه.

ابن مبارک رحمه الله پر اوښانو سپرو ته حکم وکړ، چې بېرته ستانه شئ او خپل وکیل ته یې وویل: د خرچې لپاره څومره پیسې درسره شته؟

وکیل وویل: یو زر دینار راسره شته!

ابن مبارک رحمه الله ورته وویل: په شمېر شل دیناره ترې جدا کړه، چې د (مرو) ښار ته د بېرته رسېدو لپاره موږ ته بسنه وکړي او نور دې جلۍ ته ورکړه!

د سږ کال د حج نه دا صدقه موږ ته ډېره غوره ده (۹۸۰) دینار یې ټول هغې جلۍ ته ورکړل او له ملګرو سره د حج نه پرته خپل ښار ته را ستون شو.(البدایة و النهایة، ۲۰۳/۱۰)

**استاد شامي لیکلي:**

د مردارې له خوړلو نه د پېغلې خلاصول او حاجت یې پوره کول، له حج نه ډېره غوره دي، دا د ابن مبارک رحمه الله رأیه ده، والله اعلم او دا د ابن مبارک رحمه الله فقه او په دین کې پوهه ده.

- ابن مبارک رحمه الله به ویل: یوه نوړۍ چې د وږي ګېډه پرې مړه شي، ماته د جومات له ودانولو ډېره غوره چاره ښکاري که څه هم چې یو کس په یوازې ډول جوړ کړی وي.
- پر لومړیتوبونو پوهیدل او تطبیقول یې دا د ابن مبارک رحمه الله فقاهت او ځانګړنه وه، د هغه وږي اړتیا پوره کول چې د لوږې مخنیوي لپاره څه نه لري، ځکه دا نږدې ده، چې فقر د کفر لامل

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي، په داسې حال کې د فقير لوږه او اړتيا پوره کول د جومات له جوړولو ډېر غوره کار دی.

➢ دا شونې ده، چې لمونځ په جومات يا بل کوم پاک ځای کې وشي، ځکه ټوله ځمکه پاکه او د لمانځه لپاره د جومات په بڼه ګرځول شوې ده.

وږی به يا صبر وکړي او حرامو ته له نږدېوالي به د خپل عزت ساتنه وکړي او د لوږې به مړ شي، يا به د بلې کومې جريمې ښکار شي، د بېلګې په ډول غلا او غصب به وکړي يا به بله داسې ناوړه چاره تر سره کړي، چې د امله به يې ټولنه ګډه وډه شي او هم به د ټولنې امن ته زيان ورسوي او اسلام تل هغه قضيې او موضوع ته ارزښت ورکړی، چې د ټولنې امن پکې تضمين او ساتل شوی وي.

د همدې له امله دا يوه نوړې د جومات له ودانولو ډېره غوره ده.

او د اړينو حاجتونو او اړتياوو طلب، لکه خوراک او پوښاک، د علم له طلب نه مخکې دي.

➢ دغه راز ابن مبارک رحمه الله د اولوياتو (لومړيتوبونو) په ترتيب کې دې ته ژمن و، چې د الله تعالی په لاره کې جهاد کول، له دې نه مخکې دي چې سړی ځان د دويمې فقهې په زده کړه بوخت کړي.

➢ عبدة بن سليمان ويلي:

موږ د روم په هېواد کې، يو ځل له ابن مبارک رحمه الله سره شپه مهال په مزل کې ملګري و، له بره نه پر موږ ورښت ورېده او د پښو لاندې ځمکه مو هم لمده او خټينه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ابن مبارک رحمه الله وویل:

(ابو محمده، موږ ډېرې ورځې شپې، د ایلاء او ظهار په مسئلو کې تېرې کړې او ددې شپو په څېر شپې را نه پاتې دي).

ابن مبارک رحمه الله پر هغو شپو پښېماني څرګندوله، چې د دین په علم او پوهه کې یې تېرې کړې وې؛ ځکه دې چارې دی د روم له جهاد نه بوخت ساتلی و.

د لومړیتوبونو په اړه دا د ابن مبارک رحمه الله پوهه وه، دغه راز ابن مبارک رحمه الله به واجباتو او خیریه چارو کې هم د ترتیب لحاظ کاوه، دا د علم او فقهې یو باب دی، د تېر په پرتله اوس مسلمانان دې اهم باب ته ډېره اړتیا لري.

- د سلطنت او واکمنۍ په اړه د ابن مبارک رحمه الله دریځ دا و، چې د سلطان (باچا) شتون اړین او ضروري کار دی، خلک اړ دي چې د هر اړخیزو چارو ترتیب او تنظیم لپاره باچا ولري او له دې نه څوک سترګې نه شي پټولی؛ ځکه که باچا نه وي زور ور او ځواکمن به کمزوري وخوري.(مواعظ للامام عبدالله بن مبارک، ١٦ ص)

## مواعظ عبدالله بن مبارک رحمه الله!

قال الله تعالی:

ٱدۡعُ إِلَىٰ سَبِيلِ رَبِّكَ بِٱلۡحِكۡمَةِ وَٱلۡمَوۡعِظَةِ ٱلۡحَسَنَةِ. (النحل، ١٢٥)

وقال تعالی:

وَعِظۡهُمۡ وَقُل لَّهُمۡ فِيٓ أَنفُسِهِمۡ قَوۡلَۢا بَلِيغٗا ﴿٦٣﴾.(النساء)

- عبدالله بن مبارک رحمه الله ویلي:

د دنیا مینه وال او پر دنیا اخته خلک مخکې له دې، له دنیا څخه لاړل چې د دنیا تر ټولو خوږ شیز وڅکي او خوند یې تر لاسه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چا ورته وويل: په دنيا کې خوږ څيز څه شی دی؟

ابن مبارک رحمه الله وويل: د الله عز وجل معرفت او پېژندګلوي.

(مواعظ للامام عبدالله بن مبارک، ۲۳ ص)

## علم او وېره!

په تاسې کې د ډېر علم خاوند ته پکار دي، چې د الله تعالی نه دې سخت وېرېدونکی وي.

او ده به ويل:

هغه سړی ښنګه د ډېر علم د لرلو دعوه کوي، چې د کمې وېرې او زهد لرونکی وي.(مواعظ للامام عبدالله بن مبارک، ۲۴ ص)

## ورک شوی ورور!

- هېڅ شي دومره نه يم ستړی کړی، څومره مې چې دا چاره ستومانه کوي، چې د الله عز وجل لپاره ورور او دوست نه مومم.

(مواعظ للامام عبدالله بن مبارک، ۲۴ ص)

- که يو سړی له سلو شيانو ښخه ځان ساتي او له يو شي ښخه ځان نه بندوي دا ورع (ځان ساتنه) نه ده.

او په چا کې چې د جهل (ناپوهی) يو خوی هم وي دا له جاهلانو ښخه دی، تا نه دي اورېدلي چې الله تعالی نوح عليه السلام ته څه ويلي، کله چې نوح عليه السلام وويل:

اِنَّ ابْنِیْ مِنْ اَهْلِیْ .(هود،۴۵)

الله تعالی ورته وويل:

اِنِّیْۤ اَعِظُكَ اَنْ تَكُوْنَ مِنَ الْجٰهِلِیْنَ ﴿۴۶﴾ .(هود)(مواعظ للامام عبدالله بن مبارک، ۲۵)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د دنیا مینه په زړه کې ده!

د دنیا مینه په زړه کې ده او ګناهونه ټول له زړه نه را چاپېره دي، زړه یې په منځ کې ایسار کړی دی د همدې له امله ستونزمنه ده، چې کله به خیر ور رسیږي.(مواعظ للامام عبدالله بن مبارک، ۲٦ ص)

## د قرآن د ماناګانو پېژندل!

کله چې ستاسې یو کس په دومره کچه قرآن زده کړي، چې لمونځ یې پرې صحیح کېږي، بیا دې علم پیل کړي او د علم زده کړه دې خپله بوختیا وګرځوي، ځکه په علم سره د قرآن کریم ماناګانې پېژندل کېږي.(مواعظ للامام عبدالله بن مبارک، ۲٦ ص)

## د نصیحت قبلول!

زموږ په زمانه کې داسې هېڅوک پاتې نه شو چې زه یې وپېژنم چې دی په پراخه سینه نصیحت قبلوي.(مواعظ للامام عبدالله بن مبارک، ۲٦ ص)

## د یوې ورځې خواړه!

- دنیا نه ده؛ مګر یوازې د یوې ورځې خواړه دي.

(مواعظ للامام عبدالله بن مبارک، ۲۷ ص)

- یو کس ابن مبارک رحمه الله ته وویل: وصیت راته وکړه، ابن مبارک رحمه الله ورته وویل: بې ګټې لیده، کاته پرېږده، د خشوع توفیق به درکړی شي، بې ګټې خبرې پرېږده، حکمت به دې نصیب شي، بې ګټې خواړه پرېږده، د عبادت توفیق به درکړی شي، د خلکو د عیبونو پلټل پرېږده، پر خپلو عیبونو د خبرېدا توفیق به درکړی شي، د الله په ذات کې بوختېدل او خبرې جوړول پرېږده، له شک او منافقت څخه به وساتل شي.(مواعظ للامام عبدالله بن مبارک، ۲۸ ص)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ډاډمن اوسېدل!

- يو کس ابن مبارک رحمه الله ته وويل: زه مې له هغه کس نه ځان په ډېر بنه حال کې وينم، چې ظالمانه وژنه يې کړې وي.
  ابن مبارک رحمه الله ورته وويل: دا ته چې ځان په امن گڼې، د هغه چا له عمل نه ډېر ناکاره عمل دی، چې ظالمانه وژل يې کړي وي.(مواعظ للامام عبدالله بن مبارک، ۲۸ ص)
- د ابن مبارک رحمه الله ددې وينا مقصد دا دی، چې انسان پر خپل عمل ډاډ او باور لري او وېره نه لري دا د ظالمانه قتل نه ستره گناه ده، متفق عليه حديث کې هم راغلي، رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي: ( هېڅوک به هم پخپل عمل جنت ته داخل نه شي، صحابه و وويل: تاسې هم، د الله استازيه؟
  رسول الله صلی الله عليه وسلم وويل: نه، زه هم په عمل جنت ته نه شم ننوتی؛ مگر هله چې الله تعالی مې پخپل فضل او رحمت کې پټ کړي).(صحيح البخاري، ۵۶۷۳، صحيح مسلم، ۲۸۱۶)
- شقيق وايي: ابن مبارک رحمه الله ته يې ملگرو وويل: کله چې له موږ سره لمونځ وکړې، ولې را سره نه کېنې؟
  ابن مبارک رحمه الله ورته وويل: د لمانځه نه وروسته د صحابه و او تابعينو څنگ ته ورځم او له هغو سره يم.
  موږ ورته وويل: صحابه او تابعين چېرې دي؟
  ابن مبارک رحمه الله وويل: خپل علمي بڼ ته ورځم، هغوی پکې گورم او د هغوی نقش او چارې (عملونه) پکې تر لاسه کوم!
  له تاسې سره څه کوم، تاسې خو د خلکو غيبتونه کوئ.

(مواعظ للامام عبدالله بن مبارک، ۲۹ ص)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## درې سپک مه ګڼه!

- پر عقلمن لازم دي، چې د درېيو سپکاوی ونه کړي د عالمانو، باچا او ملګرو (دوستانو).
ځوک چې د عالمانو سپکاوی کوي، اخرت يې له منځه ځي، ځوک چې د باچا سپکاوی کوي، دنيا يې له منځه ځي او ځوک چې د ملګرو او دوستانو سپکاوی کوي، سړيتوب او شرافت يې له منځه ځي.(مواعظ للامام عبدالله بن مبارك، ۳۰ ص)

- بشر بن الحارث وايي: عبدالله بن مبارک رحمه الله روان و او يو سړي ترې د يو حديث په اړه وپوښتل، ابن مبارک رحمه الله ورته وويل: دا د علم عزت نه دی!
بشر بن الحارث وايي: د ابن مبارک دا خبره مې ډېره زياته ښه وګڼله او خوښه مې شوه.(مواعظ للامام عبدالله بن مبارك، ۳۰ ص)

- ډېر ځلې يو عمل ډېر کوچنی وي؛ مګر د (خالص او سپېځلي) نيت له امله هغه په ستر عمل بدل شي او ډېر ځلې يو عمل ډېر ستر وي؛ مګر د (ناسم او فاسد) نيت له امله کوچنی شي(او ثواب يې له منځه لاړ شي).(مواعظ للامام عبدالله بن مبارك، ۳۰ ص)

## څلور خبرې!

څلور خبرې، چې د څلور زرو خبرو څخه انتخاب شوي دي.

۱: پر ښځه باور مه کوه!

۲: پر مال، مه غره کېږه!

۳: پر معده دې دومره خواړه مه باروه، چې طاقت يې نه لرې!

۴: له علم څخه دومره علم زده کړه، چې يوازې تاته ګټه رسوي.

(مواعظ للامام عبدالله بن مبارك، ۳۱ ص)

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د زهد دعوه!

د خپل لورې، د زهد دعوه دې له زهده وباسي؛ ځکه ته پخپله د خپل ځان ثنا او ستاینه کوې.(مواعظ للامام عبدالله بن مبارك، ۳۱ ص)

## د رياء او شرک تر منځ توپیر!

که چېرې دوه کسان، په لاره کې سره ملګري شي، یو یې اراده وکړي، چې دوه رکعاته لمونځ وکړي؛ مګر د ملګري له امله یې پرېږدي، دا ریا ده او که د ملګري له امله یې وکړي (چې هغه یې وګوري) دا شرک دی.(مواعظ للامام عبدالله بن مبارك، ۳۲ ص)

## قرآن پرې لعنت وايي!

ډېر ځلې قرآن، د قرآن پر باروونکي (حافظ یا عالم) لعنت وايي، کله چې قرآن والا د خپل رب نافرماني کوي قرآن یې له سینې نه پرې غږ کوي په الله سوګند، زه ددې لپاره ستا په سینه کې ځای شوی نه یم، ایا ته د خپل رب نه حیا نه کوې؟!.(مواعظ للامام عبدالله بن مبارك، ۳۲ ص)

## د مؤمن بادشاهي!

عبدالله بن مبارک رحمه الله ویلي:

دنیا د مؤمن لپاره زندان دی او په زندان کې یې سترې چارې صبر او غوسه زغمل دي د مؤمن لپاره په دنیا کې بادشاهي، راحت او خوشحالي نشته، د مؤمن بادشاهي، ارام او خوشحالي به په جنت کې وي.(مواعظ للامام عبدالله بن مبارك، ۳۳ ص)

(c) ketabton.com: The Digital Library


## ډېران او هدیره!

عبدالله بن مبارک رحمه الله پر یو راهب ورتېرېده، د راهب یو لوري ته هدیره وه او بل لوري ته یې ډېران وه، ابن مبارک رحمه الله راهب ته وویل: راهبه! تا سره هم د انسانانو خزانه ده او هم درسره د شتو (مالونو) خزانه ده او په دواړو کې د عبرت درس دی.

(مواعظ للامام عبدالله بن مبارك، ۳۳ ص)

## د سپینو زرو خبرې!

ابن مبارک رحمه الله نه د لقمان حکیم ددې وینا په اړه وپوښتل شو چې زوی ته یې ویلي و: (که خبرې د سپینو زرو دي؛ نو چوپتیا د سرو زرو ده).

ابن مبارک رحمه الله وویل: ددې مانا دا ده، چې که د الله عز وجل د اطاعت او عبادت خبرې د سپینو زرو دي؛ نو د الله عز وجل د نافرمانۍ نه چوپتیا د سرو زرو ده.

(ابن المبارک لمحمد بن عثمان جمال، ۱۸۷ ص عن جامع العلوم و الحکم، ۱۱۷ ص)

## ښکاره او پټ ګناهونه!

ثوک چې د ښکاره ګناهونو له امله دوزخ ته ننوځي (په کړاو او سزا کې) له هغه چا نه کم دی، چې د ریا او شهرت له امله دوزخ ته ننوځي.(مواعظ للامام عبدالله بن مبارک، ۳۴ ص)

## چا سره ناسته لرې؟

ستا ناسته دې له مسکینانو سره وي ځان ترې ساته او پام دې وي، چې له بدعتي سره ناسته، ولاړه ونه کړې.

(مواعظ للامام عبدالله بن مبارک، ۳۴ ص)

(c) ketabton.com: The Digital Library



- یو درهم چې د شک او شبهې له امله واپس کړم له دې نه راته غوره دی، چې شپږ لکه درهم خیرات کړم.(مواعظ للامام عبدالله بن مبارک، ۳۵ ص)
- د ابن مبارک رحمه الله نه د تواضع د مانا په اړه وپوښتل شو، هغه وویل: پر شتمنو کبر کول!.(مواعظ للامام عبدالله بن مبارک، ۳۵ ص)

## صحیح حدیث!

ابن مبارک رحمه الله ویلي:

په صحیح حدیث سره انسان د کمزوري حدیث نه را ایساریږي.

(مواعظ للامام عبدالله بن مبارک، ۳۵ ص)

یانې ډېره کره خبره ده، صحیح احادیثو سره لوستونکي دې ته نه اړ کېږي، چې ضعیفو او کمزورو احادیثو ته ور وګرځي.

## د صحابه و اختلاف!

د صحابه و خپلمنځي جنګونه د فتنې په مانا وو، زه د دوی د هېڅ یو کس په اړه نه وایم چې دی په فتنه کې اخته شوی و.

(مواعظ للامام عبدالله بن مبارک، ۳۵ ص)

## د مرجئه و سره مخالفت!

- ابن مبارک رحمه الله ته وویل شو، شیبان وایي، چې ته مرجئي یې؟!

ابن مبارک رحمه الله وویل: شیبان دروغ ویلي، زه په درېیو شیانو کې له مرجئه و سره مخالف یم.

- ❖ مرجئه وایي: ایمان له عمل پرته قول دی او زه وایم: ایمان قول او عمل دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



❖ مرجئه وايي: د لمانځه پرېښودونکی نه کافر کېږي او زه وايم کافر کېږي!

❖ مرجئه وايي: ايمان نه زياتيږي او نه کمېږي او زه وايم، ايمان هم زياتيږي او هم کمېږي.(مواعظ للامام عبدالله بن مبارک، ۳٦ ص)

## هېنداره!

➢ ابن مبارک رحمه الله ويلي:

زړه د هېندارې په څېر دی، ډېر وخت لپاره چې په لاس کې پاتې شي زنګ نيسي يا د څاروي په څېر دی چې ترې غافل شوې، مخ درنه ګرځوي.

(مواعظ للامام عبدالله بن مبارک، ۳٦ ص)

## علم او دنيا!

د طالب العلم په حال تعجب کوم چې له ايمان او علم سره ـ سره ځان د دنيا مينې ته وربولي، دغه راز ده ويلي: د عالم لپاره شرط دا دی، چې په زړه کې به يې د دنيا مينه نه وي.

(مواعظ للامام عبدالله بن مبارک، ۳۷ ص)

**يادونه:**

➢ د ابن مبارک رحمه الله د خبرې هدف دا دی چې عالم او د علم طالب ولې له دنيا سره مينه وکړي، په داسې حال کې چې علم د دنيا حقيقت روښانه کړی، چې دنيا د الله عز وجل په وړاندې د ماشي د وزر په کچه وزن او ارزښت نه لري، بيا نو څنګه له دنيا سره مينه کېدلی شي؟!

(c) ketabton.com: The Digital Library



دنيا سره د مينې او دنيا کې د کار کولو توپير دا دی، چې دومره کار پکې پکار دی، چې انسان پرې ځان، نورو خلکو ته د حاجت او اړتيا نه خلاص کړي.(مواعظ للامام عبدالله بن مبارک، ۳۷ ص)

- سويد بن سعيد وايي: يو ځل مې ابن مبارک رحمه الله په مکه مکرمه کې وليد، د زمزم اوبو ته ورغی، يو گوټ اوبه يې ترې وڅکلې بيا يې د قبلې لوري ته مخ کړ ويې ويل:

ای الله! د مؤمل زوی مورږ ته د ابو الزبير نه حديث را نقل کړی او هغه د جابر نه او جابر رضي الله عنه د رسول الله صلی الله عليه وسلم نه حديث نقل کړی، نبي صلی الله عليه وسلم ويلي:

«مَاءُ زَمْزَمَ لِمَا شُرِبَ لَهُ».(مسند امام أحمد، ابن ماجه)

**ژباړه:** د زمزم اوبه چې کوم حاجت لپاره وڅکلی شي، حاجت يې پوره کېږي.

- ای الله! زه يې ددې لپاره څکم چې د قيامت د ورځې تندې نه پرې خلاص شم، بيا يې د زمزم اوبه وڅکلې.(سير اعلام النبلاء، ۸/ ۳۹۳)

**يادونه:**

- د سلف صالحينو رحمهم الله ټول فکر او فهم د اخرت په اړه څرخېده او د اخرت چارو د دوی زړونه، روحونه او عقلونه بوخت ساتلي وو، تل به يې د اخرت په اړه فکر او پام کاوه.

ډېری خلک ددې حديث په مانا کې د دنيا اهمو چارو ته ورگرځي؛ مگر ابن مبارک رحمه الله په دې حديث سره د قيامت ورځې ته ورځي او خپله اصلي اړتيا په پام کې نيسي.

(مواعظ للامام عبدالله بن مبارک، ۳۸ ص)

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ابن المبارک رحمه الله وايي: مورږ هغه مهال د ادب په لټه کې شو، چې ادب ورکونکي (عالمان) مو د لاسه ورکړل.(حلية الاولياء، ۱٦۹/۸)

**يادونه:**

له ادب نه مراد، ټول پټ او ښکاره اسلامي اداب دي.

او ادب ورکوونکي (مؤدبين) هغه عالمان دي، چې خلک په سلوک او د ادابو په عملي تطبيق کې د هغوی پيروي او د هغوی په خبر عمل کوي.

فقدان نه مراد ورکېدل نه، بلکې د دوی مړينه ده.

(مواعظ للامام عبدالله بن مبارک، ۳۹ ص)

## ناپوه (جاهل) ته د تعليم ورکولو طريقه!

- يو سړي د ابن مبارک رحمه الله په خنګ کې اپرنجی وکړ او الحمدلله يې ونه ويله:

ابن مبارک رحمه الله ورته وويل: د اپرنجي په مهال سړی څه وايي؟

هغه کس وويل: الحمدلله.

ابن مبارک رحمه الله ورته وويل: يرحمك الله.(حلية الاولياء، ۱۷۰/۸)

- د رسول الله صلی الله عليه وسلم پر سنتو به څوک عمل کوي؟

د ابن مبارک رحمه الله په وړاندې د يوسف بن اسباط د عبادت طرز او طريقې يادې کړی شوې، ابن مبارک رحمه الله وويل: تاسې د هغو خلکو ياد وکړ، چې پر ياد يې شفاء غوښتل کېږي؛ مګر که ټول خلک د هغوی د عبادت طريقې خپلې کړي او ويي کاروي؛ نو د رسول الله صلی الله عليه وسلم پر سنتو به څوک عمل کوي؟

د ناروغانو پوښتنه به څوک کوي او جنازو ته به څوک ورځي؟

دې ته ورته يو شمېر نور د ثواب کارونه يې ياد کړل.

(مواعظ للامام عبدالله بن مبارک، ۴۰ ص)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د نېکانو خوشبويي!

ابن مبارک رحمه الله ته وویل شو، ملائک څنګه پوهېږي، چې انسان د نېکۍ اراده کړې ده؟

ابن مبارک رحمه الله وویل: ملائک يې د نېکۍ خوشبويي حس کوي.(مواعظ للامام عبدالله بن مبارک، ۴۰ ص)

## د نېکانو ياد!

ابن مبارک رحمه الله ويلي: د الله عز وجل رحمت  د نېکانو خلکو په ياد سره رانښکته کېږي.(مواعظ للامام عبدالله بن مبارک، ۴۰ ص)

## وخت پر قرآن او د قرآن پر علم سينګار کړه!

يو سړي عبدالله بن مبارک رحمه الله ته وویل:

ابو عبدالرحمانه! زياتي وخت مې په څه شي کې تېر کړم؟

د قرآن په زده کړه کې او که د علم په طلب کې؟

ابن مبارک رحمه الله ورته وویل: دومره قرآن دې زده دی په څومره چې لمونځ کول صحيح کېږي؟

هغه کس وویل: هو.

ابن مبارک رحمه الله ورته وویل:

بيا دې نو زياتي وخت د هغه علم په طلب کې وکاروه، چې قرآن کريم پرې پېژندل کېږي.(مواعظ للامام عبدالله بن مبارک، ۴۱ ص)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دوکه کېدل دي نه جرأت!

ابن مبارک رحمه الله ویلي: ستاسې یو کس دې داسې نه وایي، چې فلانکی د الله عز وجل په وړاندې څومره زړور دی؟

بې شکه الله عز وجل ستر عزتمن او له دې نه لوړ او پاک دی، چې څوک دې د هغه په وړاندې جرأت وکړي، بلکې داسې دې ووایي: چې فلانکی پر الله تعالی څومره دوکه شوی دی.

(مواعظ للامام عبدالله بن مبارک، ۴۱ ص)

## ایا نصیحت کوونکی شته!

یو سړي ابن مبارک رحمه الله ته وویل: ایا داسې څوک شته چې نصیحت وکړي؟

ابن مبارک رحمه الله ورته وویل: ایا داسې څوک پېژنې چې نصیحت قبول کړي او ویي مني.(مواعظ للامام عبدالله بن مبارک، ۴۲ ص)

## زهد او شتو نه ګټه اخیستل!

د دنیا نه په ګټه اخیستلو سره بنده له زهد نه، نه وځي(په دومره کچه ګټه اخیستل اړین دي) چې خپل مخ پرې خلکو ته د سوال کولو نه وساتي.(مواعظ للامام عبدالله بن مبارک، ۴۱ ص)

## هغه مې لا تر اوسه لیکلې نه ده!

عبدالله بن مبارک رحمه الله ته چا وویل: ابو عبدالرحمانه، تر کوم وخت به ته دا حدیث لیکي؟

ابن مبارک رحمه الله وویل: کېدی شي هغه کلمه چې ماته ګټه رسوي لا تردې دمه مې لیکلې هم نه وي!.(الطبقات الکبری للشعراني، ۵۱/۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**يادونه:**

➢ دا هم نا اشنا ستره خبره ده، د ژوند لورې بدلوي، ابن مبارک رحمه الله هم وايي: د کوم هدف لپاره چې دا کاري لړۍ روانه ده، کېدی شي هغه خبره مې لا ليکلې هم نه وي؛ نو د هغې په لټه کې يم، څو يې تر لاسه کړم.(مواعظ للامام عبدالله بن مبارک، ۴۳ ص)

## قدر دې وپېژنه!

➢ يو سړي ابن مبارک رحمه الله ته وويل: وصيت راته وکړه!
ابن مبارک رحمه الله ورته وويل: خپل قدر دې وپېژنه!.

(مواعظ للامام عبدالله بن مبارک، ۴۳ ص)

## په رښتيني بڼه ځان پېژندل!

➢ ابن مبارک رحمه الله ويلي: کله چې انسان خپل ځان (نفس) وپېژني (له نفس سره د کمي او ګناهونو محاسبه وکړي) د نفس په وړاندې له سپي نه ډېر خوار او ذليل ګرځي.

(مواعظ للامام عبدالله بن مبارک، ۴۴ ص)

## د دين دوه برخې!

کېدی شي، چې أدب د دين دوه درېيمې برخې وي.

(مواعظ للامام عبدالله بن مبارک، ۴۴ ص)

**يادونه:**

استاد صالح احمد شامي ددې وينا په اړه ليکي:

(دين فرائضو (احکامو) ادابو او اخلاقو ته شامل دی او له شک پرته ټولنيز (اجتماعي) او نفسي اداب او ښايسته اخلاق د ځومره والي په لحاظ سره له فرائضو او احکامو ډېر زيات دي).

(مواعظ الامام عبدالله بن مبارک للشامي)

(c) ketabton.com: The Digital Library



❖ سنيد بن داود وايي: له ابن مبارک رحمه الله نه مې د خلکو د ډولونو په اړه وپوښتل:

ابن مبارک رحمه الله وويل: عالمان، ما وويل: له بادشاهانو نه څوک غوره خلک دي؟ ويې ويل: زاهدان! يانې په حقه بادشاهان، هغوی چې پر خپلو نفسونو واکمني لري او له دنيا نه ډډه کوي.

ما وويل: له غوغاء نه څوک؟ يانې د هغوی نه چې د خلکو سره يې ګډ ژوند کې ونډه زياته وي او ظالمانه مشري کوي.

ويې ويل: خزيمة او ملګري يې! ما وويل: له ټيټ مرتبه خلکو نه؟

ويې ويل: هغوی چې د دوی په منځ کې ژوند کوي (دين يې د ژوند کولو لپاره وسيله ګرځولې وي او هڅه کوي چې ددې په وسيله د دنيا هسکو څوکو ته ورسيږي).(مواعظ للامام عبدالله بن مبارک، ۴۵ ص)

## سلطان الزهد!

## دوه ولسمشران؟!

د زهد ولسمشر، د رعيت (ولس) له ولسمشر نه په مقام او مرتبه کې ستر دی!

د ولسونو ولسمشر خلک په امسا او متروکه را غونډوي او زاهد (پرهېزګار) له خلکو تښتي او خلک ورپسې وي.

(الطبقات الکبری للشعراني، ۵۱/۱)

**يادونه:**

د دې حکمت يا نصيحت په دې کيسه کې ولولئ.

امام شعراني په الطبقات، (۱/ ۵۱) او امام ذهبي په سير اعلام النبلاء (۸/ ۳۸۴) کې نقل کړي، اشعث بن شعبة وايي: کله چې هارون الرشيد باچا (رقة) ته راغی، هغه مهال عبدالله بن مبارک

(c) ketabton.com: The Digital Library



رحمه الله هم راغی، د ابن مبارک رحمه الله د راتګ خبر چې خپور شو، خلک په ډېره بیړه او مینه د هغه لور ته را وځغلېدل، په اوړدو ـ اوږدو مزلونو یې ګاولې شلېدلې وي او په خاورو او ګردونو خړ پړ وو، د ابن مبارک رحمه الله ګېرچاپېره د خلکو سخته ګڼه ګوڼه وه او د خلکو د ګڼې ګوڼې له امله فضا ګرد و غبار نیولې وه، د امیر المؤمنین هارون الرشید ام ولده د لرګیو نه د جوړې ښګلې له برج نه رانښکاره شوه او د خلکو ګڼه ګوڼه یې چې ولیده ویې ویل: دا څوک دی؟ ورته وویل شو: دا د خراسان یو عالم دی!

هغې وویل: په الله تعالی قسم! اصل بادشاهي خو دا ده، د هارون الرشید څه بادشاهي ده، هارون الرشید ته خو خلک، د متروکې امسا، پولیسو او پوځیانو په وسیله راغونډولی شي (او ده ته خلک پخپله خوښه مینه او لېوالتیا را غونډ شوې دي).

حبیب جلّاب وایي: ابن مبارک رحمه الله نه مې وپوښتل: انسان ته څلور مرغلرې کوم غوره څیز ورکول شوی دی؟

ابن مبارک رحمه الله وویل: د عقل غریزه.

ما وویل: که عقل نه وي؟

ویي ویل: ښایسته ادب.

ما وویل: که ادب هم نه وي؟

ویي ویل: مهربان ورور چې ښه مشوره ورکوي.

ومې ویل: که دا هم نه وي؟

ویي ویل: اوږده چوپتیا.

ما وویل: که دا هم نه وي؟

ویي ویل: بیا ورته بیړنی مرګ غوره څیز دی!.(سیر أعلام النبلاء، ۳۹۷/۸)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## بخل او علم!

څوک چې پر علم بخيلي کوي، پر درېيو څيزونو اخته کېږي.

يا په مرگ چې علم يې له منځه وړي.

يا په هېره، ياني علم يې ترې هېرېږي.

او يا د باچا (واکمن امير) پر خدمت او نوکرۍ اخته شي او علم يې له منځه لاړ شي.(سير أعلام النبلاء، ۳۹۸/۸)

## ښېگڼې او بدگڼې!

عبدالله بن مبارک رحمه الله ويلي:

کله چې د انسان ښېگڼې پر بدگڼو بر لاسې شي، نو بيا د هغه بدگڼې نه يادېږي او هر کله چې د انسان بدگڼې پر ښېگڼو بر لاسې شي؛ نو بيا د هغه ښېگڼې نه يادېږي.

## له څلورو د امن هيله مه لره!

➢ عقلمن خلک له څلورو څخه ځان په امن نه گڼي.

له تېرې شوې گناه څخه، ځکه پته نه لگي چې رب عز وجل به ورسره پکې څه معامله کوي.

له پاتې عمر څخه، ځکه پته نه لگي چې څومره پېښې او افتونه به پکې مخې ته راځي.

له ورکړل شوي فضيلت څخه، کېدی شي مکر او استدراج وي، له ډولي کړی شوې گمراهۍ څخه چې ده ته هدايت ښکاري او هم يو ساعت لپاره د زړه له کږېدلو څخه؛.

ياد شوي څيزونه له انسان نه دين اخلي او دی پرې نه پوهيږي؛.(مواعظ للامام عبدالله بن مبارک، ۴۹ ص)

(c) ketabton.com: The Digital Library



➢ نعیم بن حماد وايي: عبدالله بن مبارک رحمه الله به په کور کې ډېره ناسته کوله.

چا ورته وویل: یوازېتوب کې تنګېږې نه؟! ابن مبارک رحمه الله وویل: څنګه یوازې یم؛ زه خو رسول الله صلی الله علیه وسلم سره ملګری یم، یانې د هغه احادیث لولم او ځان له هغه سره احساسوم. (مواعظ للامام عبدالله بن مبارک، ۴۹)

## د زاهد (پرهېزګار) پېژندنه!

عبدالله بن مبارک رحمه الله ویلي: زاهد هغه کس دی، که دنیا تر لاسه کړي خوشحالېږي نه او که د لاسه یې ورکړي خفه کېږي پرې نه؛.(مواعظ للامام عبدالله بن مبارک، ۵۵ ص)

## زاهد!

یو ځل ابن مبارک رحمه الله ته وویل شو: ای زاهده!

ابن مبارک رحمه الله ورته وویل: عمر بن عبدالعزیز رحمه الله زاهد دی، چې دنیا یې مخې ته راغله ؛ نو یې پرېښوده او زه چې یم؛ نو ما له څه شي پرهېز کړی؟!.(مواعظ للامام عبدالله بن مبارک، ۵٦ ص)

## غوره زهد!

➢ عبدالله بن مبارک رحمه الله ویلي:

ډېر غوره زهد هغه دی، چې پټ وي.(مواعظ للامام عبدالله بن مبارک، ۵٦ ص)

➢ ابو وهب المروزي وايي، له ابن مبارک رحمه الله نه مې وپوښتل: کبر څه ته وايي؟

ابن مبارک رحمه الله وویل: کبر دې ته وايي، چې ته د نورو خلکو سپکاوی کوې او سپک یې ګڼې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بيا مې ترې وپوښتل، عجب (ځان غوښتنه) څه ته وايي؟

ابن مبارک رحمه الله وويل: عجب دې ته وايي: چې ته په دې اند يې چې دا څه شيان له ماسره دي دا له بل چاسره نشتهٔ، ما ته په لمونځ کوونکو کې د عجب (ځان غوښتنه) نه بد او ناکاره شی بل معلوم نه دی، ياني دا د مؤمنانو بد صفت دی.

(مواعظ للامام عبدالله بن مبارک، ۵۸ ص)

## د عالمانو ادب!

د سفيان بن عيينه رحمه الله په حضور کې له عبدالله بن مبارک رحمه الله څخه د يوې مسئلې په اړه پوښتنه وشوه.

عبدالله بن مبارک رحمه الله وويل: موږ له دې څخه منع شوي يو چې د مشرانو (عالمانو) په شتون کې دې خبرې وکړو.

(سير اعلام النبلاء، ۸/۴۲۰)

## د تقوا دليل!

- عبدالله بن مبارک رحمه الله ويلي: داود عليه السلام خپل زوی سليمان عليه السلام ته ويلي و: ای زويه! درې څېزونه د سړي پر تقوا دلالت کوي.

۱: پر الله عز وجل ښايسته توکل کول، په هغه څه کې چې دې ته رسېدلي وي.

۲: د الله عز وجل په ورکړه ښه او ښايسته رضا کېدل.

۳: په غم او ازموينه کې ښايسته صبر کول.

(مواعظ للامام عبدالله بن مبارک، ۵۹ ص)

- عبدالله بن مبارک رحمه الله ويلي: سړی هله عالم کېدلی شي، څو پورې چې د علم په طلب او لټه کې وي، کله چې د ځان په اړه دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



گومان وکړي، چې دی عالم شوی؛ نو په حقيقت کې دی ناپوه (جاهل) دی.(مواعظ للامام عبدالله بن مبارک، ۵۹ ص)

## نو څوک؟!

عبدالله بن مبارک رحمه الله ويلي: عالمان د پېغمبرانو وارثان دي کله چې دوی له خلکو نه تمې کوي، بيا به نو چا پسې اقتدا کېږي؟
سوداگر په ځمکه کې د الله تعالی امانتکار بنده گان دي، کله چې دوی خيانت وکړي، بيا به نو له چاسره امانت اېښودل کېږي؟
غازيان د الله مېلمانه دي، دوی چې د غنيمت په مال کې خيانت وکړي، بيا به نو څوک پر دښمن کاميابېږي؟
زاهدان د ځمکې بادشاهان دي، دوی چې رياکاران وي، بيا به نو د چا پيروي کېږي؟
چارواکي د خلکو ساتونکي دي، ساتونکی او شپون چې لېوه وي، بيا به نو څوک د ولس ساتنه کوي.(مواعظ للامام عبدالله بن مبارک، ٦٠ ص)

## پر دېوال ليکلې کرښه!

عبدالله بن مبارک رحمه الله ويلي:
که په دېوال دې نصيحت وموند، ورته وگوره، فکر پرې وکړه او نصيحت ترې واخله!
چا ورته وويل: فقهې سره څنگه وکړو؟
ابن مبارک رحمه الله وويل: فقه (علم) د اورېدو پرته نه سمېږي!.(مواعظ للامام عبدالله بن مبارک، ٦٠ ص)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## شکر!

➢ عبدالله بن مبارک رحمه الله ته وويل شو: رښتينی عالم څنګه پېژندل کېږي؟

ابن مبارک رحمه الله وويل:

رښتينی عالم هغه دی چې له دنيا څخه پرهېز کوي او د اخرت چاروته کلکه پاملرنه کوي.

(مواعظ للامام عبدالله بن مبارک، ٦١ ص)

➢ عبدالله بن مبارک رحمه الله ته وويل شو: موږ ته پر څه شي، د شکر ادا کول پکار دي؟

ابن مبارک رحمه الله ورته وويل: تاسې ته مناسب دي، چې د اخرت په زياتوالي او د دنيا په کمي او نقصان شکر ادا کړئ!

او دا ددې له امله چې اخرت مو هله زياتيږي، چې دنيا نقصاني شي او دنيا مو هله زياتيږي، چې اخرت مو نقصاني شي.

(مواعظ للامام عبدالله بن مبارک، ٦١ ص)

## يوه نوړې؟!

عبدالله بن مبارک رحمه الله ويلي:

وړې ته يوه نوړې ورکول راته د ميزان په تله کې د جومات په ودانولو ډېر غوره دي، که څه هم چې په يوازې ځول مې جومات ودان کړی وي.(مواعظ للامام عبدالله بن مبارک، ٦١ ص)

## د مور و پلار غيبت!

➢ د عبدالله بن مبارک رحمه الله په ناسته (مجلس) کې يو کس د بل کس غيبت وکړ، ابن مبارک رحمه الله ورته وويل: که د غيبت کولو اراده لرئ؛ نو د مور و پلار غيبت مو وکړئ، ددې لپاره چې د نېکو

(c) ketabton.com: The Digital Library



چارو بدلې مو پردي (اجنبي) ته لاړې نه شي، بلکې مور و پلار ته به مو ورسيږي.(مواعظ للامام عبدالله بن مبارک،٦٢ ص)

- دغه راز ابن مبارک رحمه الله ويلي:

که ما د چا غيبت کولی؛ نو د خپل مور و پلار غيبت به مې کړی وی؛ ځکه له نورو نه دوی زما د نېکيانو ډېر لايق او حقدار دي.

(مواعظ للامام عبدالله بن مبارک، ٦٢ ص)

## اړينه، مګر پرېښودل شوې توبه!

يو ځل عبدالله بن مبارک رحمه الله وويل:

له غيبت نه توبه دا ده، چې له هغه کس نه بښنه وغواړې چې د چا غيبت دې کړی دی.

سفيان بن عيينه رحمه الله ورته وويل؛ بلکې له دې کس نه به د هغه خبرو په اړه بښنه غواړي، چې د هغه په حق کې يې کړې وي.

(يانې هغه کس ته به وايي، چې ما ستا په اړه داسې او داسې خبرې کړي دي، ته ترې تېر شه او بښنه راته وکړه).

ابن مبارک رحمه الله، سفيان بن عيينه رحمه الله ته وويل: دوه ځلې کړاو مه ورکوه.(مواعظ للامام عبدالله بن مبارک، ٦٣ ص)

## خوندور ځيزونه!

عبدالله بن مبارک رحمه الله ويلي:

ډېر خوندور ځيزونه، له ملګرو دوستانو سره ناسته کول د کفايت (بسايني) لورته ورګرځيدل (چې د ژوند چارې يې هره برخه کې بسنه کوي او بل ته محتاج نه وي) او د الله عز وجل لپاره همېشنی دوستانه کول.(مواعظ للامام عبدالله بن مبارک، ٦٣ ص)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مرګ لپاره تیاری!

عبدالله بن مبارک رحمه الله ویلي:

د مرګ لپاره تیاری وکړه او هغه څه لپاره چې له مرګ نه وروسته دي.(مواعظ للامام عبدالله بن مبارک، ٦٣ ص)

## طواف یې مبارک شه!

بې شکه یو سړی به د کعبې نه طواف کوي او خراسانیانو ته به ځان ښايي.

چا ورته وویل: دا به نو څنګه وي؟

ابن مبارک رحمه الله وویل: دا کس دا خوښوي چې خراسانیان د ده په اړه ووايي، چې فلانکی مکه کې د طواف او سعیې لپاره اوسیږي، طواف او سعیې دې ورته مبارک وي.(مواعظ للامام عبدالله بن مبارک، ٦۴ ص)

## د ښکار شبکه!

دې زمانه کې قاریانو د حرامو او شکمنو څیزونو خوراک ډېر کړی، تر دې چې د ګېډو او عورتونو په خوندونو کې ډوب شوي دي او له خپل علم نه یې د ښکار شبکه (جال) جوړه کړې، چې دنیا پکې ښکار کوي.(مواعظ للامام عبدالله بن مبارک، ٦۴ ص)

## د ادب اهمیت!

- عبدالله بن مبارک رحمه الله ویلي:

موږ لږ غوندې ادب ته، له ډېر علم نه زیاته اړتیا لرو.

(من مواعظ و اقوال الصالحین، ٦٩ ص)

(c) ketabton.com: The Digital Library



- یو سړی ابن مبارک رحمه الله ته راغی، ورته یې وویل:

وصیت راته وکړه! ابن مبارک رحمه الله ورته وویل: د الله لحاظ ساته او د مراقبې حال کې اوسه!

هغه کس وویل: د الله مراقبت او لحاظ ساتل څه مانا؟

ابن مبارک رحمه الله ورته وویل: د الله عز وجل نه حیاء کوه!.

(مو مواعظ و اقوال الصالحین، ۷۰ ص)

## له بدعتي سره مه کېنه!

- عبدالله بن مبارک رحمه الله ویلي:

ستا ناسته دې له مسکینانو سره وي او له بدعتي سره د ناستې نه ډډه وکړه!.(من مواعظ و اقوال الصالحین، ۶۳ ص)

- عبدالله بن مبارک رحمه الله ویلي: دېرش کلونه مې د ادب زده کړه وکړه او شل کلونه مې د علم زده کړه وکړه، سلفو به لومړی ادب زده کاوه او بیا به یې د علم زده کړه کوله.(موسوعة الاداب الاسلامیة، ۱۵ ص)

- د سلفو صالحینو څخه یو کس خپل زوی ته ویلي و: زویه، چې د ادب یو باب زده کړې، دا راته له دې نه غوره ده، چې ته د علم اویا بابونه زده کړې.(موسوعة الاداب الاسلامیة، ۱۴ ص)

- مخلد بن حسین، ابن مبارک رحمه الله ته ویلي و:

موږ د ډېرو احادیثو له زده کړې نه، د ډېرو ادابو زده کړې ته ډېر محتاج یو. (موسوعة الاداب الاسلامیة، ۱۴ ص)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لومړی ادب بیا علم!

ابن مبارک رحمه الله وايي: ډېرش کلونو کې مې ادب زده کړ او شلو کلونو کې مې علم زده کړ، صحابه کرامو رضي الله عنهم به لومړی ادب زده کاوه او بیا به يې علم زده کاوه.(موسوعة الاداب الاسلامية، ١٦)

## پټ او ښکاره ګناهونه!

څوک چې د ښکاره ګناهونو له امله دوزخ ته ننوځي، د عذاب او سزا په اعتبار به له هغه چا څخه کم وي، څوک چې د رياء، سمعت او شهرت له امله دوزخ ته ننوځي.(تنبيه المفترين، ٩٥)

## عالمانو کمښت!

اسلامي اداب مو په داسې وخت کې طلب کړ، چې ادب ورکوونکي شيخان او عالمان مو د لاسه ورکړي وو.(حلية الأولياء، ٨/ ١٦٩)

د مال او دنيا نه دومره ګټه تر لاسه کول، چې انسان پرې خپل مخ د خلکو په وړاندې د سوال نه وساتي څه باک نه لري او نه پرې انسان د زهد له مرتبې نه وځي.(الطبقات الکبرى للشعراني، ١/ ٥٢)

## له ناپوهۍ سره عزت نشته!

د هغه چا پر حال تعجب پکار دی، چې علم نه تر لاسه کوي او ځان لپاره د عزت تمه لري.(سير أعلام النبلاء، ٨/ ٣٩٨)

## د زهد تعريف!

زاهد هغه څوک دی، که دنيا ورته ورسيږي، پرې خوشحالیږي نه؛ او چې د لاسه يې ورکړي پرې غمجن کیږي نه؛.

(مواعظ الامام عبدالله بن مبارک رحمه الله، ٥٥)

(c) ketabton.com: The Digital Library


## اصل تواضع!

ابن مبارک رحمه الله ویلي: اصل تواضع دا ده، چې د هغه چا په وړاندې ځان ښکته کړې، څوک چې په دنیوي ژوند او نعمتونو کې له تانه ښکته وي، څو دا حقیقت څرګند شي، چې ته د دنیا او شتو له امله پر هغه فضیلت نه لرې او د هغه چا نه ځان لوړ ونیسه، چې په دنیا او شتو کې ستا نه لوړ وي، څو هغه ته دا حقیقت څرګند شي، چې هغه د دنیا له امله پر تا هېڅ فضیلت او غوره والی نه لري.
(مواعظ الامام عبدالله بن مبارک، ۵٦)

**یادونه:**

د ابن مبارک رحمه الله دا وینا هم د سرو زرو پر اوبو د لیکلو ارزښت لري.(فاروقي)

## قرآن داسې ولولئ!

نعیم بن حماد رحمه الله وايي: یو سړي ابن مبارک رحمه الله ته وویل: بېګاه شپه مې ټول قرآن کریم په یو رکعت کې ولوست، عبدالله بن مبارک رحمه الله ورته وویل: زه داسې سړی پېژنم، چې ټوله شپه یې تر سهاره پورې یوازې د یو ایت (اَلْهٰكُمُ التَّكَاثُرُ) په بیا ـ بیا لوستلو تېره کړه او دا طاقت یې پیدا نه کړ، چې ترې مخکې بل ایت ته تېر شي.
ابن مبارک رحمه الله خپله ځان یادوه؛ مګر هغه سړي ته یې ځان ښکاره نه کړ.(سیر أعلام النبلاء، ۷/ ٦۱۴)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## جهنم!

يو ځل د ابن مبارک رحمه الله په مجلس کې د جهنم ياد وشو، هغه وويل:

عجبت لشيطان أتى الناس داعيا ـ إلى النار واشتق اسمه من جهنم.

ژباړه: تعجب دی چې شيطان خلک اور (نار) ته بلي، دا په داسې حال کې چې د دوزخ د اور نوم له جهنم څخه اخيستل شوی دی.

(سير أعلام النبلاء، ۷/ ۶۲۳)

## د ادب سينګار!

يحيى بن يحيى الليثي رحمه الله وايي: يو ځل موږ د امام مالک رحمه الله د احاديثو په علمي حلقه کې ناست وو، څوک راغی، چې عبدالله بن مبارک رحمه الله راغلی او درسي ناسته کې د کېناستو اجازه غواړي، امام مالک رحمه الله هغه کس ته وويل: اجازه ورکړئ، چې را ننوځي، ابن مبارک رحمه الله چې مجلس ته راننوت، امام مالک رحمه الله د هغه لپاره د ناستې په ځای کې وخوځېده او له ځان سره نږدې يې ورته د ناستې ځای ورکړ، له دې مخکې مې داسې څوک نه و ليدلی، چې امام مالک رحمه الله دې د احاديثو په درسي ناسته کې هغه ته خوځېدلی وي او ځای دې يې ورکړی وي، د احاديثو قاري، د احاديثو استاد امام مالک رحمه الله ته احاديث لوستل او درس جاري و.

کله به چې څه شي باندې ورتېرېده؛ نو امام مالک رحمه الله به ترې پوښتل: ابن مبارکه! ستاسې مذهب په دې کې څه شی دی؟

يا له تاسې سره په دې اړه څه علم او ځواب دی؟ ابن مبارک رحمه الله مې ليده، چې په ډېر ادب او ښايسته طريقې به يې ځواب

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکاوه، بيا د ادب له مخې پاڅېده او له درسي حلقې نه ووت، امام مالک رحمه الله د هغه ادب خوښ کړ او د هغه د ادبي او علمي سلوک ستاينه يې وکړه، بيا امام مالک رحمه الله موږ ته وويل: دا ابن مبارک رحمه الله دی، د خراسان فقيه او عالم دی.

(سير أعلام النبلاء، ۷/ ۶۳۰)

يو ځل د سفيان بن عيينه رحمه الله په حضور کې د ابن مبارک رحمه الله نه د يوې مسئلې پوښتنه وشوه، عبدالله بن مبارک رحمه الله په ډېر ادب ووېل: موږ له دې نه منع کړی شوي يو، چې د خپلو مشرانو او عالمانو په مخکې دې خبرې وکړو.

(سير أعلام النبلاء، ۶۳۱/۷)

## د (۱۰۰۰) کسانو دوستانه!

عبدالله بن مبارک رحمه الله په علمي سفرونو کې ځانګړی مقام او تاريخ لري، يو ځل يې د (مرو) نه د (رسی) سيمې پورې يو زر کيلو متره مزل ددې لپاره وکړ، چې د امام حسن بصري رحمه الله يو اثر کره او ثابت کړي، کوم چې د هارون بن المغيرة سره و، هغه ته ورغی، هارون بن مغيره وايي: زما څنګ ته راغی او له سورلۍ نه هم ښکته نه شو، ما ورته ووېل: اسماعيل بن مسلم نه مې اوريدلي او هغه له حسن څخه او د امام حسن بصري رحمه الله دا اثر يې کره ثابت او کره واوريده: لا تشتري مودة الف رجل بعداوة رجل واحد.

**ژباړه:** د زرو کسانو دوستانه د يو کس پر دښمنۍ مه اخله.

بيا ابن مبارک رحمه الله هارون ته ووېل: يوازې همدې حديث پسې له (مرو) نه دلته راغلی يم.(مواعظ عبدالله بن مبارک رحمه الله، ۴)

(c) ketabton.com: The Digital Library


## غوره ګاونډيتوب!

د عبدالله بن مبارک رحمه الله د کور څنګ ته يو يهودي اوسېده، يو وخت يهودي د کور د خرڅولو اراده وکړه، دوه زره دينار يې د کور قيمت وټاکه، خلکو ورته وويل: ستا کور د دوه زره دينارو ارزښت نه لري، يو زر دينار يې مناسبه بيه ده.

يهودي وويل: (۱۰۰۰) دينار د کور بيه ده او (۱۰۰۰) دينار د ابن مبارک رحمه الله د ګاونډيتوب بيه ده، ابن مبارک رحمه الله چې خبر شو، يهودي ته يې (۱۰۰۰) ديناره ورکړ او ورته يې وويل: کور مه خرڅوه، همدلته پاتې شه، دا د ابن مبارک رحمه الله حسن تعامل او غوره اخلاق و.(الشيخ عبدالكريم الصالح)

## د حساب نه وېره!

قاسم بن محمد د ابن مبارک رحمه الله همزولی او ملګری وايي: د امام عبدالله بن مبارک رحمه الله به د خلکو په منځ کې ډېر عزت او درناوی کېده، له ما سره يو مهال دا فکر پيدا شو، چې دا څه لامل دی، چې د ده دومره زيات درناوی کېږي، که د عبادتونو خبره وي؛ نو دی لمونځ کوي، موږ هم لمونځ کوو، دی روژه نيسي موږ هم روژه نيسو، دی حج کوي، موږ هم حج کوو او که دی جهاد کوي، موږ هم جهاد کوو، يو ځل يوې غزا ته د سفر په لاره وو، د لارې په اوږدو کې يو دمه ځای کې ناست و، شپه وه، ناڅاپه ډيوه مړه شو او تورتم شو، څو شېبې وروسته هماغه ډيوه رڼا يا د رڼا لپاره بله کومه وسيله روښانه شوه، ګورم چې د ابن مبارک رحمه الله له سترګو نه اوښکې بهېدلې او ګيره يې پر اوښکو لمده وه، هماغه شېبه زه پوه شوم، چې ابن مبارک رحمه الله ته ددې تيارې او تورتم له امله د اخرت د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورځې سخته تیاره ور یاده شوې د حساب وپره ورسره پیدا شوه، دې تیارې نه یې درس او عبرت واخیست او د اخرت د ورځې تیاره یې خپل مخ ته ودروله او ویې ژړل، د همدې حال په لیدو زما اندېښنه ځواب شوه او دا یقین مې کره شو، چې ابن مبارک رحمه الله د الله عز وجل مخ کې درېدلو نه او د حساب نه د وېرې له امله پر موږ غوره کړی شوی او همدا یې د فضیلت معیار دی، که څه هم چې زموږ او د ابن مبارک رحمه الله عبادتونه او نېکې چارې سره یو ډول دې.(تاریخ بغداد)

دا د ژوندي زړه ځانګړنه ده، چې هر بدلون او حالت نه زده کړه کوي، زړه چې کله د الله عز وجل په مینه، وېره او عبادت ډک او ښایسته وي، بیا ترې داسې فکر او احساس سرچینه اخلي.

## سخاوت ترې زده کړه!

د ابن مبارک رحمه الله رأس المال (اصل شتمني) څلور سوه زره دیناره و، هغه ډېر هوښیار سوداګر هم و، هر کال به یې د سوداګرۍ له ګټې سل زره دیناره د صدقې په ډول، د عبادت، زهد او علم پر خاوندانو لګول.(البدایة والنهایة، ۱۰/ ۲۰۲۰)

## مرغلره په ډېران کې؟!

حسان او سوید د ابن مبارک رحمه الله ملګري وایي: کله چې ابن مبارک رحمه الله شام ته د جهاد لپاره تله، موږ ورسره هم وو، کله یې چې د هغه ځای د خلکو عبادت کول، غزاګانو کې برخه اخیستل او هره ورځ جهادي ډلګۍ استول ولیدل، موږ ته یې مخ را واړوه او ویې ویل: إِنَّا لِلّٰهِ وَ إِنَّآ إِلَيْهِ رَاجِعُوْنَ، افسوس د عمر په هغو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورځو او شپو چې موږ د شعر په علم او زده کړه کې تېرې او سبا کړې او دلته مو د جنت دروازې خلاصې پرېښودې دي.

راوي وايي، بيا ابن مبارک رحمه الله روان و، موږ هم ورسره روان وو؟ دغه مهال موږ پر يو ورتېر شو، چې په لوړ غږ يې دا بيت زمزمه کاوه.

أذلني الهواء فأنا الذليل　　　　وليس إلى الذي اهوى سبيل

**ژباړه:** خواهش خوار او ذليل کړی يم زه ذليل يم او نشته نجات د هغه کس لپاره چې د خواهش پيروي او د هغې لاره وي.

ابن مبارک رحمه الله د لستوني نه (کاغذ) را وويسته او دا بيت يې وليکه، موږ ورته وويل: د شعر هغه بيت ليکئ، چې دا مو واورېده؟

ابن مبارک رحمه الله وويل: هغه مثل (متل) مو نه دی اورېدلی، چې وايي: رُبَّ جَوْهَرَةٍ فِيْ مَزْبَلَةٍ.

**ژباړه:** ډېر ځلې مرغلره په ډېران کې موندل کېږي.

(مواعظ الامام عبدالله بن مبارک رحمه الله، ۵۷)

## د ابن مبارک رحمه الله د شعر له ګلبڼ نه!

عبدالله بن مبارک رحمه الله فضيل بن عياض رحمه الله ته يو ليک استولی و، چې د ليک په مضمون کې يې فضيل رحمه الله ته تيزي ورکوله او جهاد ته يې هڅولی و دا ليک يې (۱۷۷ هـ) کې هغه ته ستولی و او دا بيتونه پکې و.

يَا عَابِدَ الحَرَمِيْنِ لَوْ أَبْصَرْتَنَا　　　　لَعَلِمْتَ أَنَّكَ فِي العِبَادَةِ تَلْعَبُ

**ژباړه:** ای په حرمينو کې عبادت کوونکيه! که ته موږ وګورې؛ نو پوه به شې چې ته په عبادت کې لوبې کوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مَنْ كَانَ يَخْضِبُ جِيدَهُ بِدُمُوعِهِ    فَنُحُورُنَا بِدِمَائِنَا تَتَخَضَّبُ

**ژباړه:** که څوک وي، چې خپل اننګي پر اوښکو لمدوي، نو زموږ ګرېوانونه زموږ پر وينو لمديږي.

أَوْ كَانَ يُتْعِبُ خَيْلَهُ فِي بَاطِلٍ    فَخُيُولُنَا يَوْمَ الصَّبِيحَةِ تَتْعَبُ

**ژباړه:** يا دې دا سړی چې ستړی کوي خپل آس په باطل او بې ګټې چارو کې، نو زموږ آسونه د سهار په وخت (بريد) کې ستړي کيږي

رِيحُ الْعَبِيرِ لَكُمْ وَنَحْنُ عَبِيرُنَا    رَهَجُ السَّنَابِكِ وَالْغُبَارُ الأَطْيَبُ

**ژباړه:** د مشکو خوشبويي دې ستاسو وي؛ او زموږ لپاره ډېره ښايسته خوشبويي د آسونو د پښو ګرد و غبار دی.

وَلَقَدْ أَتَانَا مِنْ مَقَالِ نَبِيِّنَا    قَوْلٌ صَحِيحٌ صَادِقٌ لاَ يُكْذَبُ

**ژباړه:** او په تحقيق سره راغلی دی موږ ته د نبي قول، چې رينښتنی او صحيح قول دی او نبي صلی الله عليه وسلم دروغ نه وايي.

لاَ يَسْتَوِي وَغُبَارُ خَيْلِ اللهِ فِي    أَنْفِ امْرِئٍ وَدُخَانُ نَارٍ تَلْهَبُ

**ژباړه:** د الله تعالی په لاره کې د آسونو د پښو ګرد او د اور لوګی چې بليږي، دواړه د يو سړي په پوزه کې نه جمع کيږي.

هَذَا كِتَابُ اللهِ يَنْطِقُ بَيْنَنَا    لَيْسَ الشَّهِيدُ بِمَيِّتٍ لاَ يُكْذَبُ

**ژباړه:** دا د الله تعالی کتاب دی، چې زموږ په منځ کې غږيږي، شهيد (عبث مړ نه دی) او د الله تعالی کتاب دروغ نه وايي.

(سير أعلام النبلاء، ۸/ ۴۱۲)

**(پای)**

**سبحانك اللهم وبحمدك أشهد أن لا إله إلا الله أنت أستغفرك و أتوب إليك**

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**